مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: شتیفان څوایګ
ژباړن: ډاکټر محمدآجان مرزئ

۲۰۲۰/۱۲/۳۰

# د شطرنج کیسه

## دریمه برخه

له مور تېنتېدلی سرې مې له لنډې مودې وروسته، د بېرې د استراحت او ګرځېدنې په عرشې کې پيدا کړو. هغه پر اوږده څوکۍ پروت او پر لوستلو بوخت و. مخکې له دې چې ورنږدې شم، له وخت نه مې کار واخيست او له نظره مې تېر کړو. د هغه ګرد سر د کمې سترتيا پر حالت پر بالښت پروت و؛ بيا مې هم پام، په ځانګړې توګه، د هغه کابو ځوان مخ عجيب سپين رنګ ته وړواوښت چې د شقيقو د وېښتانو د تک سپين رنګ ترمنځ تر سترګو کېدو. نه پوهېدم ولې، خو احساس مې کاوه چې دا سړی باېد په ناڅاپي توګه زوړ شوی وي. لا نه وم وررسېدلی چې له خپل ځايه راڅوت شو او د خپل نوم په ويلو يې ځان راوپېژند. ما د ده کورنی نوم د يوې درنې اتريشي کورنی په توګه سمدلاسه وپېژندلو. زما په ياد شول چې د دې کورنی يو تن د شوبرت له نږدې دوستانو څخه و او هم د پخوانې قيصر شخصي طبيب له همدې کورنی څخه و. کله چې ما ډاکټر ب. ته د چينتوويچ د ننګونې د منلو په اړه زموږ هيله وړاندې کړه، په ښکاره توګه حېران شو. وروسته ماته څرګنده شوه چې نه پوهېدو چې له نړيوال اتل، او آن د دې وخت له ټولو برياليو اتل سره يې لوبه په عالي توګه ترسره کړې وه. زما دې معلوماتو پر هغه، د کوم دليل له مخې، ځانګړی اغېز درلود، څکه چې په وار وار يې له ما وپوښتل چې آيا پوره باور لرم چې د ده سيال په رښتيا هم يو پېژندل شوی نړېوال اتل دی. زما پام ژر دې خبرې ته واوخت چې دې وضعيت زما مأموريت آسانه کړو او د هغه حساسيت ته د پاملرنې له مخې مې لازمه وګڼله دا خبره پټه وساتم چې که لوبه يې وبايلله نو مادي تاوان به يې د مېک کانر پر غاړه وي. ډاکټر ب. په پای کې، له اوږده ترديد وروسته خپل چمتووالی يوې سيالی ته څرګند کړ، خو په عين وخت کې يې په ښکاره توګه له ما څخه هيله وکړه چې نورو ښاغليو ته دا خبرداری ورکړم چې باېد د ده توان ته په هيڅ وجه زياته هيله مندي ونلري.

او په خوبلنه مسکا يې زياته کړه: «زه په رښتيا نه پوهېږم چې آيا د ټولو قواعدو له مخې به د شطرنج لوبې کولو توان ولرم او که نه. هيله مند يم چې زما پر دې خبره باور وکړی چې د لېسې له وخت، يعنې له شلو کلونو زياتې مودې راپدې خوا مې د شطرنج په کومه دانه لاس ندی وهلی. او دا خبره بېځايه فروتني هم نه وه. او آن هغه وخت يوازې يو بې استعداده لوبغاړی ګڼل کېدم.» هغه دا خبره په دومره طبيعي توګه ووېله چې ما د ده په اخلاص هيڅ ډول شک نشو لرلای. خو ما سره له دې هم هغه ته ووېل چې په څومره دقت يې د هر يوه اتل د بېلابېلو حرکتونو ترکيب په ياد و؛ نو په دې توګه يې باېد لږترلږه په نظري توګه له شطرنج سره سروکار لرلای وي. ډاکټر ب. بيا هم په هماغه خوبلنه توګه مسک شو.

«زيات ورسره مشغول وم! هو همداسې ده. خدای حاضر دی چې له شطرنج سره زياته موده مشغول وم. خو دا کار تر ځانګړو او بالکل بې څارې شرايطو لاندې ترسره شو. دا يوه پېچلې کيسه وه او دا کيسه زموږ د اوسني خوندور او ښه وخت لپاره يوه کوچنی ونده اوسېدلای شي. که نيم ساعت وخت لرئ...»

هغه خپل څنګ ته د استراحت څوکۍ ته اشاره وکړه. ما د هغه بلنه په لېوالتيا ومنله. د موږ څنګ ته بل څوک نه و ناست. ډاکټر ب. خپلې عينکې له سترګو ليرې کړې، څنګ ته يې کېښودلې او خبرې يې پيل کړې:

«دا د تاسو مهرباني وه، چې زما کورنی نوم د وين د ښار د اوسېدونکې په توګه در په ياد و. خو زه سوچ وهم چې د هغې حقوقې وکالت خانې په اړه به مو لږ څه اورېدلې وي چې ما له خپل پلار سره يوځای او وروسته يوازې چلوله، څکه چې موږ حقوقې قضيې چې په ورځپانو کې به خپرېدلې نه اجرا کولې او د اصولو له مخې مو د نوو موکلينو له منلو څخه ډډه کوله. موږ په حقيقت کې کومه وکالتخانه نلرله، بلکه کار مو يوازې حقوقې مشورو ته محدود کړی و، له ټولو د مخه د لويو صومعو د شتمنيو مديريت چې پلار مې د روحانيانو د ګوند د پخوانې استازې په توګه نږدې اړيکې ورسره لرلې. د دې ترڅنګه - څرنګه چې اوس سلطنت نور پر تاريخ بدل شوی دی، سړی کولای شي په دې اړه خبرې وکړي - موږ ته د سلطنتي کورنی د ځينو غړو د پېسو د مديريت دنده راسپارل شوې وه. له دربار او روحانيانو سره زموږ د کورنی اړيکې له دوو نسلونو راپدې خوا موجودې وې. يو اکا مې د قيصر شخصي طبيب، يو بل اکا مې په زاېتېن شتېتېن کې د ښار راهب و. موږ باېد دا اړيکې ساتلې وای، او دا يو چوپ او بې غږه کار و چې موږ ته د ميراثي اعتماد او باور له مخې راسپارل شوی و. دې کار له موږ څخه له سختې رازساتنې او باور بل څه نه غوښتل، دوه صفتونه چې زما وفات شوې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

پلار په لوړه کچه لرل. هغه په ریښتیا هم پر دې وتوانېدو چې هم د انفلاسیون او هم د اقتصادي رکود په کلونو کې د خپل احتیاط او هوښیارۍ له امله د خپلو موکلینو زیاته اندازه شتمني وژغوري. کله چې وروسته هیټلر قدرت ته ورسېدو او د کلیسا او صومعو د شتمنیو لوټول یې پیل کړل، زموږ له خوا د سرحد په بلې خوا کې هم ځینې خبرې اترې او معاملې ترسره شوې، ترڅو لږترلږه سیاره شتمني له ضبطوني وژغورل شي. موږ دواړو د کلیسا او سلطنتي کورنۍ ترمنځ د ځینو پټو سیاسي خبرواترو په اړه ډېر زیات معلومات لرل چې عام خلک به هیڅ وخت پرې خبر نشي. خو زموږ د وکالت خانې نامحسوس او کمرنګه حالت - موږ آن لوحه هم نه لرله - او هم احتیاط، ځکه چې دواړو مو په وین کې له سلطنت غوښتونکو ډلو څخه په ښکاره توګه ډډه کوله، موږ د ناغوښتل شوو څېړنو په وړاندې ساتلو. په حقیقت کې د دې کلونو په لړ کې په اتریش کې هیڅ دولتي اداره کوم وخت پر دې خبره شکمن شوې نه وه چې د قیصر د کورنۍ پټو خبررسوونکو د ودانۍ په څلورم پوړ کې زموږ ساده او کمرنګه وکالت خانې ته خپل ډېر ارزښتناک لیکونه وړل او راوړل.

ناسیونال سوسیالېستانو، مخکې له دې چې خپل پوځ د نړۍ پر ضد تجهیز کاندي، په ټولو ګاونډیو هېوادونو کې د یوه بل همدا شان ګواښمن او روزل شوي پوځ سازمان ورکونه پیل کړه. دا پوځ د محرومو، له پام غورځول شوو او سپک شوو کسانو لښکر و. د هغوی <سلولونه> په هره دولتي اداره، په هره تصدۍ کې ځای په ځای شوي وو، په هر ځای کې، آن د دولفوس (له ۱۹۳۲ تر ۱۹۳۴ میلادي کال د اتریش صدراعظم - ژباړونکی) او شوشنیګ (له ۱۹۳۴ تر ۱۹۳۸ میلادي کال د اتریش صدراعظم - ژباړونکی) په شخصي کوټو کې د هغوی اورېدونکي او جاسوسان ناست وو. آن د موږ په نامحسوسه وکالت خانه کې یې جاسوس لرل، چې زه له بده مرغه ډېر ناوخته پرې خبر شوم. البته دا د وکالت خانې یو بدبخته او بېکاره کاتب و چې ما د یوه کشیش د سپارښتنې له امله یوازې د دې موخې لپاره مقرر کړی و، ترڅو وکالت خانې ته په ظاهري توګه د یوې عادي ادارې بڼه ورکم. خو موږ له هغه څخه یوازې د ساده کارونو لپاره کار اخستلو؛ تلفون ته ځواب ورکول او د دوسیو د سمبالولو دنده ورپه غاړه وه، یعنې د هغو دوسیو سمبالول چې بالکل بې تفاوته او بې ضرره وې. هغه هیڅ وخت د مکتوبونو د خلاصولو اجازه نلرله. ټول مهم مکتوبونه مې په خپله د تایپ په ماشین لیکل، بې له دې چې کاپي یې کړم. هر مهم سند مې له ځانه سره کور ته وړلو او پټې خبرې اترې مې د صومعې په ریاست او یا زما د اکا په معاینه خانه کې ترسره کولې. د دې احتیاطي تدابیرو له برکته دا جاسوس پر مهمو کړنو خبر نشو. خو دا جاه طلب او پوچ سړی باید د یوه بدمرغه تصادف له مخې پر دې پوهېدلای وي چې پر ده باور نه کېږي او د ده ترشا زیات پرزړه پورې کارونه ترسره کېږي. ښایي چې یو ځل به یوه خبررسونکي زما په غیاب کې د "بارون فیرن" پر ځای، چې موږ هوکړه پرې کړې و، د "اعلیحضرت" کلمه کارولې وي او یا ښایي دې بېکاره سړي به له اجازې پرته مکتوبونه خلاص کړي وي. په هرحال، مخکې له دې چې زه پرې شکمن شم، له مونشن او یا برلین څخه یې زموږ د څارنې مأموریت ترلاسه کړی و. ماته ډېر وروسته، کله چې په جیل کې پروت وم، راپه یاد شول چې په روستیو میاشتو کې د هغه لومړنۍ بې پروایي په ناڅاپي توګه په زیاته لېوالتیا بدله شوې وه او څو ځلې یې په کابو نابللې توګه غوښتل زما مکتوبونه پسته خانې ته یوسي. زه ځان ته له یوې اندازې بې احتیاطۍ برائت نشم ورکولی، خو آیا له ټولو لوی ډیپلوماتان او نظامیان هم د هیټلر له خوا په خائینانه توګه نه دي غولول شوي؟ دا خبره چې ګیشتاپو (د هیټلر خفیه پولیس - ژباړونکی) په څومره دقیقه او محتاطانه توګه خپله پاملرنه زما خواته رااړولې وه په ښکاره توګه له هغه وضعیت څخه څرګنده شوه چې په هماغه ماښام چې شوشنیګ خپله استعفا اعلان کړه، او یوه ورځ مخکې له هغې چې هیټلر وین تصرف کړي، زه د ایس ایس افسرانو ونیولم. د خوښۍ خبره دا وه چې ما په راډیو کې د شوشنیګ د وداعیه وینا له اورېدو وروسته ټول مهم سندونه سمدلاسه وسوځول. پاتې سندونه مې، په بهر کې د صومعو او دوو لوړو شهزادګانو د ساتل شوو شتمنیو له ډېرو ضروري تصدیقونو سره یوځای، بالکل په روستۍ دقیقه کې، مخکې له دې چې خفیه پولیس زما دروازه ماته کړي، د کالیو په یوه ټکرۍ کې پټ کړل او د خپلې زړې او د باور وړ خدمتګارې په لاس مې خپل اکا ته ولېږل.»

ډاکټر ب. مکث وکړو تر څو یو سګرټ بل کړي. د نور په ځلا کې مې ولیدل چې د خولې په ښۍ خوا کې یې یو عصبي خوځښت رامنځته شو چې مخکې مې هم پام ورته اوښتی و او څرنګه چې مې لیدل، هر څو دقیقې وروسته تکرارېدو. دا یو ورو خوځښت و خو د هغه ټول مخ ته یې یوه عجیب ډوله ناکراري وربخښله.

«ښایي تاسو به سوچ وکړی چې اوس به په اردوګاه کې د خپل سپکاوي، شکنجو، وهلو ټکولو کیسه درته وکړم چې زموږ زاړه اتریش ته وفادار خلک وروړل کېدل. خو ماته دا څه پېښ نشول. زه په یوه بل ډول جیل کې واچول شوم. زه له هغو بدبختو کسانو سره یوځای بندي نشوم، د کومو په وړاندې چې په زړه کې له پخوا ساتل شوی کرکه او نفرت د جسمي او روحي سپکاوي په بڼه عملي کېدل، بلکه له داسې یوې ډلې سره یوځای حبس شوم چې نازیانو ترینه په زور د پېسو او یا مهمو معلوماتو د ترلاسه کولو هیله لرله. طبعاً زه په خپله د یوه ساده سړي په توګه د ګیشتاپو لپاره بالکل بې ارزښته وم. خو هغوی هرومرو دا معلومات ترلاسه کړي وو چې موږ د دوی د سختو دښمنانو پټ کارکوونکي، مدیران او د اعتمادوړ کسان وو او هغوی له ما څخه د اتهامیه سندونو د ترلاسه کولو هیله مندي لرله: د صومعو د شتمنیو د انتقالولو د ثابتولو لپاره سندونه، د سلطنتي کورنۍ او ټولو هغو کسانو پر ضد سندونه چې په اتریش کې یې د قربانۍ په ورکولو د سلطنت ساتنې لپاره کار کړی و. ښایي تاسو به حدس وهی - او دا حدس مو برحق هم دی- چې زموږ ترلاسه د هغو تېرو شوو پېسو یوه برخه، د هغوی له لوټ او غلا څخه په امان پاتې شوې وه. هغوی له همدې کبله په لومړۍ ورځ زیار وه ایست چې زه هغوی ته د دوی د آزماېښت شوو لارو په مرسته خپل راز څرګند کړم. له همدې کبله، زما د ډلې کسان چې یا باید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په جبر مهم سندونو او یا پیسې ترینه ترلاسه شوې وای، په اردوګاه کې حبس نشول، بلکه د ځانګړي چلند لپاره په پام کې نیول کېدل. ښايي په یاد به مو وي چې زموږ صدراعظم او له بلې خوا بارون روتشیلد چې هیله مند وو له خپلوانو یې په میلیونونو پیسې ترلاسه کړي، په هیڅ وجه د اغزي لرونکو سیمو ترشا نه، بلکه د ظاهري ترجیح ورکونې له امله په میتروپول هوټل کې حبس وو. دا هوټل په عین وخت کې د ګیشتاپو د قوماندانۍ مرکز هم و. په دې هوټل کې هر یو په جلا کوټه کې حبس و. دا ویاړ آن ماته چې یو ساده سړی وم، راوبخښل شو.

په یوه هوټل کې خپله کوټه - دا په خپله انساني چلند ښکاري، همداسې نه ده؟ خو باور وکړئ، دا چې هغوی موږ <نامتو کسان>، هر شل تنه په یوه د کنګل په شان ساړه بارک کې حبس نکړو، بلکه د هوټل په یوه معتدله او جلا کوټه کې یې واچولو، نو زموږ لپاره یې په هیڅ وجه یوه انساني نه، بلکه یوه لا هوښیاره لار ټاکلې وه، ځکه چې هغه فشار یې باېد په هوښیار ډول عمل کړی وای، د کوم په مرسته چې باید له موږ څخه <سندونه> ترلاسه شوی وای، نه د سختې وهنې ټکونې او یا د بدني شکنجې له لارې؛ د تجرید د ډېرې هوښیارې لارې په مرسته. چا موږ ته څه نه ویل - موږ یې یوازې په کامله تشه کې پرېښودلو، ځکه چې د انسان پر روح او روان د تشې په اندازه په نړۍ کې بل هیڅ څه دومره فشار نه غورځوي. په کامله تشه کې، په یوه کوټه کې چې له بهر څخه په کلي توګه مجزا وه، باید زموږ په بندولو د بهرنۍ وهنې ټکونې او ساړه پر ځای، زموږ د شونډو د پرانیستلو لپاره، د بدن له ننه فشار رامنځته شوی وای. ماته راکړل شوې کوټه په لومړي نظر په هیڅ ډول ناراحته نه معلومېده. یوه دروازه، یوه بستره، یوه آرامه څوکۍ، د لاس او مخ مینځلو لپاره یو کوچنۍ تشت او یو پنجره لرونکی کړکۍ یې لرلو. خو دروازه شپه او ورځ بنده وه، پر میز باید هیڅ کتاب، هیڅ ورځپاڼه، هیڅ کاغذ او هیڅ پنسل موجود نه وای. د کړکي مخې ته د بلې ودانۍ د اور ساتنې دېوال ولاړ و. زما د روح او آن زما د بدن چارچاپېر مطلقه تشه وه. له ما څخه یې ټول شیان اخستي وو، زما ساعت، ترڅو پوه نشم چې څو بجې دي، زما پنسل، ترڅو لیکنه ونشم کړای، زما چاقو، ترڅو خپل رګونه څیرې نکړم؛ آن د ډېرې کوچنۍ نشې لپاره مې د سګرټ څکولو اجازه نلرله. غیر له ساتونکي مې چې یوه کلمه خبرې یې هم نه کولې او اجازه یې نه لرله چې زما پوښتنو ته ځواب راکړي، هیڅ وخت مې نه د کوم بل انسان مخ لیدلو او نه مې یې هم غږ اورېدلو. سترګو، غوږونو، ټولو حواسو مې له سهار تر شپې او له شپې تر سهار هیڅ ډول غذا نه ترلاسه کوله، سړی به له ځانه سره، له خپل بدن او له څلورو او یا پنځو ګونګو شیانو، لکه مېز، بسترې، کړکي، د لاس او مخ مینځلو له تشت سره بې حرکته او یوازې ناست و. سړي د یوه غواص په شان د شیشې تر شا د سکوت په دې تور سمندر کې ژوند کولو او یا آن د یوه غواص په شان چې له بهرنۍ نړۍ سره د رسۍ شکېدل ورته معلوم وي او هیڅ کله به د سمندر له بې غږه ژورو راونه باسل شي. هیڅ کار موجود نه و، هیڅ څه نه اورېدل کېدل، هیڅ څه نه لیدل کېدل، مطلقه بې مکانه او بې زمانه تشه. سړی به آخوا دې خوا ګرځېده، سوچ یې آخوا دې خوا کېدو، آخوا دې خوا، په وار وار. خو آن سوچونه، سره له دې چې بې ارزښته ښکاري، یوې تکیې ته اړتیا لري، که نه نو په بې معنی توګه پر خپل ځان راتاوېږي. سوچونه هم تشه نشي زغملای. سړی به له سهار تر ماښام کوم شي ته سترګې په لار و او هیڅ څه به نه پیښېدل. سړی به په وار وار سترګې په لار و. سړی به انتظار، انتظار، انتظار و، سړي به فکر کاوه، سړي به فکر کاوه، ترڅو چې شقیقې به په درد راغلې. هیڅ څه به نه پیښېدل. سړی به یوازې و. یوازې. یوازې.

دې حالت څوارلس ورځې دوام وکړو او ما د دې ورځو په لړ کې له وخت او نړۍ بهر ژوند کاوه. که هغه مهال کومه جګړه پیل شوې وای نو زه به پرې خبر شوای نه وم. زما نړۍ میز، دروازه، بستره، د لاس او مخ مینځلو تشت، آرامه څوکۍ، کړکۍ او دېوال و، او زه به تل د دېوال هماغه کاغذي پوښ ته څېر وم؛ دومره مې ورته کتل چې د هغه زاویه لرونکې بڼه، لکه د یوې تېزې نوکې په واسطه، زما د ماغزو په ډېرو پټو غوینجو کې حک شوې وه. بلاخره تحقیقات پیل شول. سړی به په ناڅاپي توګه راغوښتل کېدو، بې له دې چې پوه شي چې شپه ده او که ورځ. سړی به راغوښتل کېدو، له څو دهلیزونو څخه به یې تېرولو، بې له دې چې پوه شي چې چېرې یې وړي؛ بیا به سړي انتظار باسلو، بې له دې چې پوه شي چې چېرې دی او په یو وار به د یوه میز په وړاندې ولاړ و چې ترشا یې څو تنه یونیفورم لرونکي کسان ناست وو. پر میز به یو کوټ کاغذونه پراته وو؛ هغه دوسیې، چې سړی به نه پوهېدو، چې څه پکې لیکل شوي دي، او بیا به پوښتنې پیل شوې، سمې او غلطې پوښتنې، روښانې او شومې پوښتنې، پټې او د چل پوښتنې. او د ځواب ورکونې پر مهال به پردیو، ظالمو ګوتو کاغذونه رااړول، چې سړی به نه پوهېدو چې څه په کې لیکل شوي دي او پردیو، ظالمو ګوتو به په یوه پروتوکول کې یو څه لیکل او سړی به نه پوهېدو چې څه لیکي. خو په دې تحقیقاتو کې زما لپاره له ټولو بېروونکې خبره دا وه چې ما نشو کولای حدس ووهم او وسنجوم چې ګیشتاپو زما په وکالت خانه کې له کړنو نه پر کومو خبرو پوه دی او کوم معلومات یې غوښتل له ما نه ترلاسه کړي. څرنګه چې ما مخکې تاسو ته ووېل اصلي تورنووکي سندونه مې د خپلې خدمتګارې په لاس خپل اکا ته ورلیږلي وو. خو آیا هغه دا سندونه ترلاسه کړي وو؟ آیا دا سندونه دوی نه وو ترلاسه کړي؟ زما د وکالت خانې کاتب څومره معلومات افشا کړي وو؟ څو مکتوبونه د هغوی لاس ته ورغلي وو او په دې لړ کې به یې د آلمان په صومعو کې، چې موږ یې استازیتوب کولو، څومره معلومات له یوه بې احتیاطه روحاني څخه په زور ترلاسه کړي وي؟ او له ما څخه یې یوه له بلې پسې پوښتنې کولې. کوم ارزښت لرونکي سندونه مې د پلانکۍ صومعې لپاره پېرودلي دي، له کوم بانک سره مې مکتوبي اړیکې لرلې، آیا پلانکی یا پلانکی سړی پېژنم، آیا له سویزرلند او یا شتینوکرزیل څخه مې مکتوبونه ترلاسه کړي دي؟ او څرنګه چې نه پوهېدم چې څومره معلومات یې ترلاسه کړي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دي، نو هر ځواب زما لپاره يو مسئوليت و. که پر يوه خبره مي اعتراف کړی وای چي هغوی پرې خبر نه وو، نو په دې توګه مي د يو بل چا ژوند په غيرضروري توګه له ګواښ سره مخ کاوه. که له حده زياتو خبرو نه مي انکار کړی وای نو خپل ځان ته به مي زيان رسولای وای.

خو تحقيقات له ټولو بده خبره نه وه. له ټولو بد حالت له تحقيق څخه وروسته زما تشي ته د ما بېرته راتګ و، هماغه کوټه له هماغه ميز، هماغه بسترې، د لاس او مخ مينځلو هماغه تشت، د دېوال هماغه کاغذي پوښ. ځکه، کله به چي يوازې شوم، له ځانه سره به مي سوچ واهه چي له ټولو هوښيار ځواب به کوم و او بل ځل بايد څه ورته ووايم، ترڅو د هغوی شک چي ښايي په يوه بې احتياطه تبصره مي رامنځته کړی وي، بياهم له مينځه وېسم. سوچ مي واهه، تفکر مي کاوه، پلټل مي، د خپلو خبرو هره کلمه مي ارزوله، د هغوی هره پوښتنه او خپل هر ځواب مي په ياد راوستل او زيار مي ايستلو سوچ ووهم چي له هغو به يې کومې برخي يادداشت کړي وي. په عين وخت پر دې هم پوهېدم چي هيڅکله به کومې پايلې ته ونه رسېږم او پرې پوه به نشم. خو کله به چي دا سوچونه په تش مکان کې په خوځښت شول، نو بيا به، بې له دې چي ودرېږي، زما په سر کې ځرخېدل، هرځل له سره او هرځل په نوي ترکيب. آن په خوب کې به مي ليدل. هرځل د ګېشتاپو له خوا له تحقيق وروسته، زما خپلو سوچونو په هماغه سرسختنه توګه د پوښتنو، څېړنو او د عذابوني له لارې شکنجه کول په غاړه اخيستل او ښايي دا کار يې آن له هغه هم په لا زياته ظالمه توګه ترسره کولو، ځکه چي د هغوی تحقيقات له يوه ساعت وروسته پای ته رسېدل، خو زما دا سوچونه، د دې شوم خلوت له برکته، هيڅکله پای ته نه رسېدل. او زما چارچاپېر يوازې ميز، الماری، بستره، د دېوال کاغذي پوښ، کړکی موجود وو، نه د فکر غلطول، نه کتاب، نه ورځپاڼه، نه کوم پردی مخ، نه د کوم شي د ليکني لپاره پنسل او نه د پام غلطولو لپاره اورلګيد موجود و، يوازي تشه وه، تشه او تشه. زه دا مهال پوه شوم چي د هوټل د کوټي دا سيستم په څومره شيطاني توګه له معنی ډک او د روان لپاره څومره وژونکی پلان شوی و. ښايي چي سړي به په اردوګاه کي په کراچيو کي د لاسونو تر ويني کېدو او په بوټونو کي د پخو تر کنګلېدو پورې ډېري انتقالولې، سړی به په تعفن او ساړه کي له دوولسو تنو نورو کسانو سره يوځای اوسېدو. خو سړي به کولای شول مخونه وګوري، سړي به کولای شول يوه پټي، يوې کراچۍ، يوې ونې، يوه ستورې، يوه نه يوه شي ته ځير شي. خو دلته د سړي چارچاپېر تل عين شيان پراته وو، تل عين شيان، ېرروونکي عين شيان. دلته زما له سوچونو، زما له ليونيو وسوسو، زما د تېرو پېښو له ناروغي تکراروني څخه پرته د پام غلطوني لپاره بل هيڅ څه موجود نه وو. او دقيقاً همدا خبره د هغوی موخه وه چي زما سوچونه زما ستوني کې را بند شي تر څو زندۍ مي کړي او زه له خبرو کولو، له اعتراف، د ټولو خبرو له اعتراف پرته بل څه ونشم کړای. هغوی همدا کار هم غوښتلو، ترڅو ټول اسناد او کسان په لاس ورکم. په تدريج سره مي احساس کاوه چي اعصاب مي د تجريد تر کرغېړونکي فشار لاندې سستېدل او دې ګواښ ته په پاملرنه مي پر خپلو اعصابو د شلېدو تر حده فشار واچاوه ترڅو د پام غلطوني لپاره يو څه پيدا يا رامنځته کړم. د ځان د مشغولا لپاره مي هڅه وکړه چي هر هغه څه مي چي کوم وخت له ياده زده کړي وو راياد کړم او له ځانه سره يې ولولم، د ماشومتوب د وخت سرودونه او د لوبو سندرې، د ليسې د دورې پر مهال د هومر کيسې، د مدني قانون مادې. له هغې وروسته مي هڅه وکړه چي حساب وکړم، د تصادفي شمېرو جمع کول، تقسيمول. خو په خلوت کې مي د حافظې قوت نه لرلو. پر هيڅ شي مي تمرکز نشو کولی. تل به عين سوچ په مينځ کې رالوېدلو: پر څه خبر دي؟ پرون مي څه ورته ووېل، بل ځل بايد څه ورته ووايم؟

دې حالت چي په حقيقت کې نه تشريح کېدونکي دی، څلور مياشتي دوام وکړو. يوازې څلور مياشتي، چي په ډېره سادګۍ ليکل کېږي، يوازې يو څو حرفونه! څلور مياشتي په سادګۍ تلفضېږي - څلور هجاوې. شونډې دا خبره د يوې ثانيي په يو پړ څلورمه برخه، په چټکۍ ويلای شي: څلور مياشتي! خو هيڅ څوک نه شي ويلای، نشي اندازه کولای، نشي ښودلای، نه د ځان لپاره، نه د بل چا لپاره چي وخت په يوه بې مکانه او بې زمانه ماحول کې څومره اوږد تېرېږي. سړی هيڅ چا ته نشي تشريح کولای چي دا تشه، تشه او بياهم تشه سړی څومره خوري او خرابوي، تل يوازې د يوه ميز او بسترې او د لاس او مخ مينځلو تشت او د دېوال کاغذي پوښ تر منځ راګير، تل چوپتيا، تل عين ساتونکی، چي سړي ته له کتو پرته، ډوډۍ کوټې ته ټېلوهي، تل عين سوچونه، چي په تشه کي پر عين خبره راګرځي، ترڅو سړی ليونی شي. وړو نښو نښانو وځنډولم او ناآرامه يې کړم چي ماغزه مي بې نظمه شوي دي. په پيل کې مي د تحقيقاتو پر مهال ذهن آرام و، په آرامی او په پام مي ځوابونه ورکول؛ هر غبرګوني سوچ، چي څه ووايم او څه وه نه وايم، کار کاوه. خو اوس مي ډېرې ساده جملې په سختۍ څرګندولې، ځکه چي د خبرو پر مهال به، لکه چي کوډې راباندې شوي وي، قلم ته ځير وم چي ليکنه يې کوله او پر کاغذ داسې روان و، لکه چي زه په خپله په خپلو کلمو پسې ځغلم. ما احساس کاوه چي قوت مي پر کمېدو دی، احساس مي کاوه هغه شېبه رانږدې کېدونکې ده چي زه به د ځان ژغورني لپاره په هر څه چي پرې پوهېږم اعتراف وکړم او ښايي له هغې هم لا زيات، د دوولسو کسانو رازونه به افشا کړم ترڅو د دې تشي له منګلو خلاص شم، بې له دې چي د ځان لپاره د يوې ساايستني لپاره له آرامی نه بل څه ترلاسه کړم. په حقيقت کې يو ماښام دې حد ته رسېدلی وم. کله چي ساتونکي د ساينديدني په دې شېبه کې ډوډۍ راته راوړه، په ناڅاپي توګه مي چيغي ورپسې ووهلې: <ما تحقيق ته وروله! غواړم هر څه ووايم! غواړم په هرڅه اعتراف وکړم! غواړم ووايم چي سندونه چېرې دي، او پېسې چېرې دي! هرڅه به ووايم، هرڅه> هغه له نېکه مرغه نور زما غږ وانه ورېد. ښايي نه يې غوښتل چي زما غږ واوري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د درېمي برخي پای